فاروق اعظم ۲۰۱۷/۱۲/۰۷

# مولد النبي الشريف

إن الله و ملئکته يصلون على النبى. ياايهالذين آمنوا صلوا عليه وسلموا تسليما (صدق الله العظيم)

د خير البشرمحمد (ص) د مبارک میلاد یادونه

بسم الله الرحمن الرحيم

د مولد النبوي الشريف ذکر اوس تر هر بل وخت ضروري دی. موږ تر پخوا ډير اوس د رسول الله (ص) د پیغامونو او تعلیماتو را په یادولو ته ضرورت لرو. تاسي وګورئ اوس په إسلامي نړی کي څه حال دی؟ د نړی اکثریت جنګونه او ناآرامی د اسلام په قلمرو کي دي او پرې تېل سويدي. څومره ويني په أفغانستان، عراق، سوريه، ليبيا، سوماليا، کشمير، يمن، فلیپین، برما او فلسطين کي توئيري؟ هره ورځ په عالم اسلام کي په زرګونو د قرانکريم حافظان او د رسول الله (ص) د دين حاملان شهيدان کېږي. هغه ښځي شهيداني کېږي چي ښايي تولني ته يي مهم علماء وړاندي کړېوای. هغه نارينه شهيدان کېږي چي که پاته وای تولنه پرې آباديدای سوای او انسانيت ته يي خدمت کولای سوای. په ګوانتانامو، بګرام، پلچرخي، کندهار، ابوغريب، لتويا، استونيا، رومانيا او نورو دولتي او شخصي بنديخانو کي يوازې د أفغانستان په زرګونو بېګناه انسانان همدا اوس ناست دي. په مليونونو مسالمانانو د استعمارګرو طاقتونو او د هغوی د لاسپوڅو له لاسه خپل وطنونه او کورونه پرې ايښي او په نورو وطنو کي بې هويته دربدره سرګردان ګرځي. تاسي د مینمار (برما) د مسلمانانو حال وګورى چي څه ورسره کېږي. انسانی ضمير دومره بېچاره، مرعوب او کرخت دی چي حتی مسلمانان يي په مکه کي ږغ نه سي پورته کولای. د أفغانستان د مسلمانانو سره څه کېږي؟ د دولتي مراجعو په قول هره ورځ تر دوه سوه پوري عسکر مره او زخميان کېږي. په هابله خوا کي تلفات ددولت په قول په څو چنده دي. دا هرځوان چي مري د يوې کورنی غړی دی؛ ښځه، أولاد، مور و پلار او خور و ورور لري. د کانو او بوټو نه دي پيدا. دا قتل عام ولي؟ ترهګر هم دوی دي‌او ګوډاګيان هم دوی. هم بور دی او هم بدنام .

آباد او مرفه عراق او ليبيا څنګه سول؟ چا وکړل او ولي يي وکړل؟ په سوريه کي چا خلک وهڅول چي د بشار اسد ظالم او بيدين رژيم ته پورته سي. هغوی چي پورته سول او مقاومت يې وکړ، څنګه بې پر نيمه لار پرېښول. دغه نړيوال منافقت او دسيسي ښائسته سوريه تباه کړه. دا ولي وسوه؟ يمن چا په وينو ولاړه؛ چا د جنګ اور پکي بل کړ او چا يي بېګنا خلک له لوږي او مهلکو ناروغيو قتل عام کړل؟ داسي نور ډير مثالونه درواخلئ. نن تر بل هروخت د مولود شريف د تجليل ضرورت دی چي د تجاوز، ظلم او بېعدالتي په مقابل کي اواز جګ سي.

خو موږ نبايد تولـه ملامتي پر نورو واچوو. په دغو مصيبتونو کي زموږ ونډه او کردار هم د پام وړ دی. دا کردار څومره دی؟ دا ولي؟ چاره يي څه ده؟ د مولود شريف تجليل او د رسول الله پيغام (ص) دغو سؤالونو ته جواب ويلای سي. يو کلا ته چي غله

ورلوېږي، هغوی يوه ډله وي؛ يوازې يو کس پر کلا نه ورواوړي؛ غله آئتلاف جوړوي. د کور بلدي سړی هم ورسره وي او يا يې دقيقه مشوره ورکړيوي. غله ټول ځوانان وي، په صحت تندرست او مسلح وي. شل، شوټ او ناروغ په غلو کې نه وي. کله چې پر کلا ورواوړي، نو که په يوه خونه کې يو زوړ سړی د مرگ پر بستر پروت او له ناروغي ټوخ وهي، غله غلا نه سی کولای؛ وايي چې څوک ويښ دي. انتظار باسي چې ټول ويده سي. که د څو مياشتو ماشوم په زانگو کې وژاړي، بيا هم غله غلا نه سي کولای او ټول يو تاريک کونج کې ځان پټوي چې هسې نه د ماشوم په ژړا نور راويښ سي. غل او متجاوز زموږ تر تصور ډير ډارن دی. هغه په تاريکه کې او چې خلک ويده وي غلا کوي. که کور رڼا، خلک ويښ او رويبار نه وی، غل نه ورځي. که تاسي ټولنه رڼا کړئ، ولس بيدار وساتئ او د غلو سره د کور د رويبارانو مراقب واوسئ، غله ستاسي کور ته نه سي درلويدای. تاسي پوه سواست چې نن د مسلمان کور ته هرځای غله ولې لويدلی دی؟ د ځان بيدارول، څراغونه لگول او د پردو په خدمت کې داخلي رويباران ورک کول په کار دي. او دا د ميلاد النبی په تجليل او د آنحضرت (ص) د پيغام په تازه کولو کېدای سي. د خندق د جنگ تاريخ وگوری چې آنحضرت (ص) د خپلو يارانو په تنوير او دښمن ته په بيداری او تياری څنگه په ډير لږ تلفاتو فوق العاده نامتوازن جنگ وگاټه او بيا يې د داخلي رويبارانو (د مديني يهود) سره چې د دښمن سره يې پټ لاس وو، څه وکړل؟ موږ بايد جنگ، سوله، سياست او د ژوند ټولی چاري د خپل پيغمبر (ص) څخه زده کړو. نو ځکه د ميلاد النبي تجليل ترهربل وخت اوس ډير ضرورت دی.

هغه امت به ولې نه ذليله کېږي چې وايي مسلمان يم خو د اسلام پر لار او قانون نه ځي. ځان په يو قانون پابند بولي خو نه يې عملي کوي. په يوه ټولنه کې چې قانون نه وي او يا نه تطبيق کېږي، همدغسي به يې حال وي لکه زموږ. خدای پاک محمد (ص) ته په اوله وحي کې د لوست او ليک د اهميت خبره کړيده او تر هر بل دين په اسلام کې د علم د حصول او ليکلو تأکيد ډير سويدي. دا ځکه علم رڼا ده. خو زموږ اکثريت له دغه نعمته محروم دی. تعجب دادی چې زموږ د ډيرو ملايانو ليک نه دی زده خو خپل په دغه کمزوری نه شرميږي، بلکي پرې وياړي. تاسي ولاړ سئ وگورئ زموږ په کليو کې د ډيرو دينی علماؤ حتی اولادونه د علم له نعمته محروم دي؛ د ښځو ليک خو بيخي ناروا گڼي. زما په کوچينوالی په جوماتونو کې د ليک زده کړه فن وو او د فن زده کړه د دينی علومو د زده کړې په وخت کې لغو (د وخت ضايع کول) کار وو. نو ځکه ډيرو ملايانو پخپلې بيسوادی فخر کاوه چې وخت يې په ليک زده کولو نه دی ضايع کړی. دلته يې خپلې ناپوهی ته د قرآن او پيغمبر د ټولو سفارشاتو خلاف د دين جعلي جامه وراغوسته. د دين په نوم دغه بيديني ټول قوم بيسواده وساتي؛ چې په نتيجه کې مو د علم او پوهي د حصول اندازه ډيره محدوده او پر هيڅ شمار سوه. بلاخره پسونه راڅخه جوړ سول چې دادی د ليوانو خوراک يو. د خپل قوم په ناپوه ساتلو موږ په حقيقت کې د پرديو اهدافو ته کار کوو. هغه قوم چې رڼا په توره وهي، رڼا به نه ويني؛ په تياره او ويره کې به ژوند کوي .

نن تر هربل وخت ډير د ميلاد النبی د تجليل ضرورت دی. د هغه رسول (ص) تعليمات بايد را په ياد کړو چې کله يې د بدر په جنگ کې بنديان ونيول، نو د هغوی د خلاصون لپاره يې يو شرط داوو چې که څا د مسلمانانو لسو هلکانو ته ليک او لوست ورزده کړ، هغه به آزاديږي. خو موږ د خپل پيغمبر (ص) د ارشاد او عمل په خلاف، ښوونځی بندوو، سوځوو يې، ماينونه ورته ايږدو او پخپل دغه عمل فخر هم کوو. حتی حکومت چې ځان مسؤل گڼي، د ښوونځيو په تعميرونو کې نظامی پوستي اچوي، د علم دروازه د وطن د أولاد پر مخ تړي او په عوض کې د بنديخانې دروازه خلاصوي. صحابه کرامو به دعاء کوله چې يا الله موږ ته په دين کې پوهه راکړه. خو زموږ دا دعاء اوس پر خوله نه راځي. موږ لمونځ کوو خو د پوهيدو تلاښ يې نه کوو. قرانکريم لولو خو پوهيدو ته يې وخت نه ورکوو. موږ هغه طوطيان يو چې څه لولو په مفهوم يې نه پوهيږو. دغه سبب دی چې د لمونځ کول او د قرانکريم لوستل زموږ په زړو کې کومه ولوله نه سي پيدا کولای. موږ له جوماته روح وايسته او تش کالبد مو ودراوه. خپله هم هسي لکه مجسمي پکې ولاړ يو. په داسې جومات او داسې جماعت څه جوړه ده؟ د عرفات پر ميدان په يوه

امام پسي په مليونونه مسلمانان ولاړ وي، خو د هيڅ استعمارګر او ظالم هيواد سترګه نه ځيني سوځي. داځکه هغوی پوهيږي چې هلته تش کالبدونه سره راټول دي.

فرض دوه ډوله دي؛ يو فرض عين او بل فرض کفائي. د فرض عين أداء پر هر مؤمن فرد لازمه ده؛ لکه لمونځ، زکات، روژه، حج. د فرض کفائی أداء پر ټولنه لازميږي؛ لکه د جنازې لمونځ. د فرض حکم دادی چې په کولو يې ثواب، په نه کولو يې عذاب او انکار يې کفر دی. د مسلمانانو په يو کلی کې پر هرچا لمونځ فرض دی. خو د جنازې لمونځ يوازې پر حاضرو کسانو فرض دی. د فرض عين په کولو د بلچا غاړه نه خلاصيږي، خو په فرض کفائي مثلا د جنازې په لمونځ چې د څو حاضرو کسانو لخوا وسي د کلي د نورو ټولو خلکو غاړه خلاصيږی. که په کلي کې هيچا د جنازې لمونځ ونه کړ؛ په کلي کې د ټولو غاړې بندې دي. همداسي د علم موضوع ده. علم پر دوه ډوله دی؛ يو فرض عين او بل فرض کفائي. د دينی علومو ضروری برخه زده کړه پر هرچا فرض ده، خو دعصري علومو زده کړه فرض کفائي ده. په يوه ټولنه کې حتمی نه ده چې ټول خلک طبيبان، انجنيران، زراعتپوهان، پيلوټان، ... وي. خو په ټولنه کې د هر فن خلک دهغې ټولنې د احتياج په اندازه حتمی بايد وي. که نه ټولو فرض ترک وهلي دي او د عذاب مستحق دي. دين هډ دی او دنيا پوست. که د چا پوست وسو، هډ ژوندی نه سي پاتيدای. نو ځکه موږ په هر لمانځه کې وايو چې يا الله د دنيا او آخرت ښه راکړې (اللهم ربنا آتنا فی الدنيا حسنة و فی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار). دين مونږ ته د اخرت تر ښېګڼې دمخه د دنيا د ښېګڼې لپاره دعاء راښوولې ده. داځکه دنيا مزرعه د اخرت ده. که موږ عصري علوم نه زده کوو، نو نه يوازې ګناهکار يو، فرض مو ترک وهلي دي بلکې خپل ژوند موهم خراب کړی او ځانونه مو د پردو احتياج کړيدي. پر موږ ولې هرڅوک حملې کوي؟ له يوه غمه نه يو خلاص، بل غم ولې راباندې نازليږي؟ علت يې دادی چې زموږ اقتصاد کمزوری او په عصري وسايلو سمبال هيواد نه يو، او دا ځکه چې موږ يې نه غواړو. موږ د دين ارشاداتو ته شا کړيده او نتيجه داده چې د بل تر پښو لاندې يو، مشران مو نور راته ټاکي او نظام مو د بل په هدايت چليږي. دومره بيغيرته سوي يو چې د سيند پر غاړه وږي تږي ناست يو او بل ته مو سترګې دي چې ډوډۍ او اوبه راکړي. أفغانستان د اوبو له لحاظه غني هيواد دی؛ خو موږ نه شرميږو په کال کې په مليونو ټنه غنم واردوو. دا غنم په نورو هيوادونو کې په اوبو رسيدلي دي. ګويا موږ د سيند پر غاړه ناست اوبه واردوو، دا شرم ولې؟ داځکه وارداتی غنم حق السکوت دی چې موږ غالمغال ونه کړو چې ولې د ډېرو اوبو په موجوديت کې بيا هم اوبه واردوو. موږ ولې خپل بندونه نه جوړوو؟ داځکه پردي يې نه غواړي او موږ ته خپل حق السکوت راکوي. موږ هوښيار يو، خو پر غولدنګی مو ځان اچولی دی؛ ځان ديندار ښيو خو نه يو؛ د ددين په نوم بيديني کوو. د عصريت په نوم د پردو ګوډاګيان او روېباران يو. ربنا ظلمنا انفسنا، و ان لن تغفرلنا و ترحمنا لنکونن من الخاسرين (يا الله موږ پر ځانونو ظلم کړيدی، که ته موږ ونه بخښې او رحم راباندې ونه کړې، موږ به تاوانيان يو). اوس د ميلاد النبي (ص) يادونه تر هربل وخت ډيره ضروري ده چې سترګې مو روڼې او عقل مو سرته راسي چې موږ څه کوو او چېرې روان يو؟ په درناوي

فاروق اعظم

۱۲ لومړی خور ۱۴۳۹ هق (۱۰ ليندی ۱۳۹۶هش/لومړی ديسمبر ۲۰۱۷م)